احمد کایا
ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۶ جنوری ۲۰۱۳

## ګراني مه ژاړه!

ګراني مه ژاړه، نوره مه ژاړه

ته له هیله ډکه یې، راتلونکې په تا کې ځلیږي

ولې دې  له سترګو لکه باران اوښکې راڅخیږي

دا چوپتیا، دا لټتیا

دا خپګان د څه لپاره

هلته لیرې داسې یو ځیګی دی

چې په نیکمرغۍ سینګار دی

ژوند چمتو شوی د ویشلو لپاره

ګراني مه ژاړه، نوره مه ژاړه!

ته له درد ډکه یې، حسرت په تا کې ځلیږي

دا دومره په فکر کې زنګیدل د څه لپاره

دا قهر، دا خپګان د څه لپاره

دا عصبانیت د څه لپاره

ګراني مه ژاړه، نوره مه ژاړه!